مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني ۲۰۲۰/۱۰/۰۶

# د پښين او فوشنج په باره کې يوه لنډه يادونه

تر هر څه مخکې بايد يادونه وکړم چې زما مسلک جغرافيه او په تيره بيا تاريخي جغرافيه نه ده او په دغه عنوان ليکنه هم يو څه زيات کار راڅخه غواړي. دونه ويلای سم چې ما پخپله په ځينو تاريخي کتابونو کې د پښين لپاره، ځای ځای، فوشنج ليدلی دی. مګر دا التباس په ډيرو پخوانيو متونو کې راغلی دی. وروسته که د چا مطلب پښين وو نو فوشنج نه بلکه پشنګ يې ورته ليکلی دی. زه په دې باره کې يو مثال د ابوالفضل د آيين اکبري د انګريزي ترجمې د دوهم ټوک څخه راوړم چې د کندهار سرکار يې معرفي کړی دی.

د کندهار ختيځ مربوطات: د ډوکی علاقه د اومو خښتو يوه قلا لري. شيږتومنه؛ ۱،۸۰۰ خرواره غله، ۱۲،۰۰۰ پسونه، ۱۵ بلوڅي آسونه. ترين او کاکړ قبايل پکښې اوسي. پنځه سوه سپاره او زر پياده عسکر ورکوي.

پشنګ يوه د اومو خښتو زړه قلا لري ۳۸ تومنه پيسي، ۳،۲۰۰ پسونه، پنځه سوه خرواره غله، ۱،۵۰۰ سپاره او ۱،۵۰۰ پياده عسکر لري.

که دا سيمه، چې په آيين اکبري کې يې پشنګ ورته ليکلی دی، د نن ورځې پښين وبولو نو له حاصلاتو او پياده او سپرو عسکرو څخه يې معلوميږي چې هغه به ځلور پنځه سوه کاله مخکې هم يوه پراخه سيمه وه. څرنګه چې په عربي ژبه کې د پ او ګ توري نسته نو په عربي متونو کې دا نوم په فوشنج تبديل سوی دی.

شهيد حافظ رحمت خان، چې خپل کتاب خلاصته الانساب يې په ۱۷۷۰ کال کې تاليف کړی دی، دا ځای د پشين په ډول ليکلي او نور نو د پشنګ د نوم استعمال، چې دا هم معلومه نه ده له کومه وخته يې رواج ميندلی وو، ليري سوی دی. « دوی دواړه چانچه تور ترين او سپين ترين ډېر خپلونه او ټبري لري خو د اوږد والي له کبله اونه ليکلی شو او مختصراً ياد کړی شول. دوی ټول د پشين په ملک کښی آباد دی ... »

دا چې په خلاصته الانساب کې دا نوم د پشين په شکل ليکل کيږي د دې معنی دا ده چې دا نوم به ډېر پخوانی وي، چې وروسته يې متونو ته لاره کړې او حافظ رحمت خان وايي چې تور او سپين ترين، چې د پښتنو ډېر ستر قبايل او حتی د قبايلو سرچيني دي، پکښې آباد دي.

له دې څخه وروسته ښايي نورو ډيرو افغاني او خارجي ليکوالانو د دغه ځای نوم د حافظ رحمت خان په شکل ليکلی وي، چې زيات تفصيل او مثالونو ته به ضرورت نه وي. انګريز ليکوال، سياح، پلټونکی او سياستمدار صاحب منصب آرتر کانلي چې له ۱۸۲۹ کال څخه تر ۱۸۳۱ کال پورې په روسيه، منځنی اسيا او افغانستان کې پټ سفرونه کړي او خپل قيمتي ياداشتونه يې هم ترتيب کړي او خپاره کړي دي؛ په ۱۸۲۹ کال کې له ماسکو څخه حرکت کړی، په ۱۸۳۰ کال کې د مرکزي آسيا له لارې هرات ته رسيدلی او د کندهار له لارې يې ځان په ۱۸۳۱ کال کې هندوستان ته رسولی دی. هغه څو ځله د پښين نوم يادوي؛ چې د امير شيرعلي خان له زمانې څخه څه باندې ۴۵ کاله پخوا خبره ده.

سيدموهين شاه، ( په نامه کې به حتما غلطي وي جهاني ) چې اوس يې نو بايد نوم ياد کړم، يو پيرخانه يا د پشين د سيدانو مشر دی. ... د اکتوبر نونسمه وه چې موږ د سيد موهين شاه په ملګرتيا له هراته حرکت وکړ. او زموږ سره دوولس تنه نور راسره وه چې اکثر يې د پشين سيدان ول.

بل ځای ليکي چې ډېره تياره وه موږ غله نه سوای تعقيبولای نو سيد موهين شاه په غلو پسي ناره کړه تاسي چې د پشين له سيدانو څخه غلا کوی د هغوی له ښرا څخه نه بيريږی؟

له ډيرو چيغو او نارو څخه وروسته سيد موهين شاه غلو ته وويل چې غوږ ونيسی زه سيدموهين شاه او د پشين سيد يم.

په دغه ډول شپږ اووه ځله د پشين نوم يادوي او د دې معنا دا ده چې د ا نوم ، له ډېره وخته د پشنګ او فوشنج ځای نيولی وو.

حيات افغاني، چې په ۱۸۶۵ کال کې چاپ سوی دی. يعني د اميرشيرعلي خان له دوهم ځل پاچا کېدلو څخه څه کم دري کاله مخکې خپور سوی دی هم دا نوم د پشين په شکل ليکي. « په افغانستان کې د پشين سيدان په تجارت او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سوداګرۍ کي مشهور او د کلکي اراﺩﻯ خاوندان او شته من ، خو سرزوري، بې باکه دي او کورنۍ شخړي پکي ډيري دي. د پشين په سيمه کي ډير سيدان اوسي....» پښتو چاپ ۴۵۵ مخ
دا چي په ۱۸۷۹ کال کي، د ګندمک په معاهده کي هم دا نوم د پشين په شکل ليکل کيږي نو معنا يې دا ده چي همدغه نوم رواج سوی او رسمي سوی دی.
« د کورم، پشين او سيوی علاقي بايد انګريزانو ته وسپارل سي. د برتانيي حکومت به دا علاقي په خپل کنټرول کي وساتي.... د ګندمک د معاهدي په اساس د کوټي موقف او له هند سره د هغه ښار د ارتباطاتو خطونه، د پشين او سيوی له اشغال سره، يقيني سول. (سايکس دوهم جلد ص ۱۱۴)
اوس نو که پر دې ټولو تاريخي شواهدو او متونو برسيره لا مرحومينو غبار، کهزاد، کهګدای او يا بل کوم ليکوال بيا هم د پښين لپاره فوشنج ليکلی وي دا يا د سيمي له جغرافيي څخه د هغوی مطلقه بېخبري ښيي او يا يې مطلب هغه فوشنج دی چي د هرات له ښار سره نيژدې پروت او د طاهر ذواليمينين يا طاهر فوشنجي له نامه سره يې شهرت نور هم زيات سوی دی. زه يقين لرم چي د نوموړو مورخينو مطلب همدغه د هرات په ګاونډ کي د فوشنج ښار يا سيمه ده. ځکه چي د امير شيرعلي خان د رسمي فرمان له صادرېدلو څخه وروسته بيا هم پښين ته فوشنج ويل دونه لويه تاريخي بې خبري ده چي سړی يې له دومره لويو او مشهورو مورخينو څخه انتظار نه سي درلودلای. په تېره بيا مرحوم غبار، چي په ۱۳۵۵ کال کي يې جغرافيای تاريخي افغانستان ليکلی او د خپل کتاب په ۱۲۶ مخ کي ليکي:
« بلوچستان شرقي در قرن نوزده عيسوي بالتدريج از طرف انګليز ها استعمار شده و علاقه های بلوچ در اثر پاليسي رابرټ سنديمان معروف متعلق به حکومت هند بريتانوي ګرديد. و حتی ( پشين و سوی ) در سال ۱۸۸۱ مسيحي از افغانستان مجزا و ضميمه حکومت هند شد...»
له دې متن څخه ځرګنديږي چي مرحوم غبار د سيمي له جغرافيي سره ښه بلد دی او د پشين پر ځای فوشنج نه ليکي.
مرحوم غبار د خپل همدغه کتاب په ۷۱ مخ کي ليکي چي شهر بوشنګ يا فوشنج در فاصله يک منزلي هرات واقع و در قرون وسطی شهر مشهوری بوده که اکنون به قريه ای تحول يافته. اين شهر وطن خانواده معروف آسيا، ال طاهر است... فوشنج بسی شاداب و معمور بود. حمدالله قزوينی در تعريف بساتين و ميوه های او ميګويد: تنها انګور او بالغ بر يکصد و چند نوع ميشود.
سړی نه پوهيږي چي مرحوم غبار به د پښين او فوشنج په باب له دومره معلوماتوسره څرنګه پښين ته فوشنج ويلی وي.
د دې متونو په استناد، زما قضاوت دا دی چي زموږ نوموړو مشهورو مورخينو پښين او فوشنج دواړه پېژندل او چي صدراعظم نور محمد شاه يې د فوشنج اوسېدونکی بللی دی مطلب يې همدغه د هرات په يو منزلي کي پروت فوشنج دی. دا چي په نونسمه پيړۍ کي د اميرشيرعلي خان په فرمان کي د دومره صراحت او بيا وروسته د ګندمک په معاهده کي د پښين او سيوی د يادېدلو سره سره، چي يقيناً ټولو به لوستي وي، زموږ مشهور مورخين نورمحمد شاه ته فوشنجي وايي، او مطلب به يې بيا هم پښين وي؛ د دې سوال د جواب ويلو مسووليت به هغوی ته پرېږدو.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولئ